**د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د مایکرو سیستمس ارتباطی تکنالوژي او معلوماتی خدماتو شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک غواړي څو د دې بانک د معلوماتی تکنالوژی آمریت لپاره د یو پایه سرور دستگاه او دوه لایسنسونو چمتو او تدارک کول قرارداد د مایکرو سیستمس ارتباطی تکنالوژي او معلوماتی خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 35207 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې د تایمنیو دوهم سړک، د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (1،066،537) یو میلیون او شپږ شپیته زره پنځه سوه او اوه دیرش افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلي بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به قرارداد منعقد نه شي.